هغه څوک خپلوي پالونکی ندی چې بدل خلاصوي، مګر هغه څوک خپلوي پالونکی دی چې خلک یې ورسره پرې کوي او هغه (یې بیرته وصلوي (پالي

له عبدالله بن عمرو رضي الله عنهما څخه روایت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمایل: "هغه څوک خپلوي پالونکی ندی چې بدل خلاصوي، مګر هغه څوک خپلوي پالونکی دی چې خلک یې ورسره پرې کوي (او هغه یې بیرته وصلوي (پالي».

[صحیح دی] [بخاري روایت کړی دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم خبر ورکوي چې: له خپلوانو سره په خپلو پاللو او نیکۍ کولو کې پوره انسان هغه څوک ندی چې د نیکۍ مقابل کې نیکي کوي، په صله رحمۍ کې حقیقي او بشپړ پالونکی انسان هغه څوک دی چې کله ورسره خلک خپلوي پرې کړي نو دی یې ورسره ښېرته وصلوي (پالي) اګر که بد یې ورسره هم کړي وي، خو هغه یې په مقابل کې ورسره نیکي کوي.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/3854